ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۲/۱۱/۱۲

**یادونه:**
لومونډ ډیپلوما ټیک یوه،سیاسي، کولتوري، ټولنیزه، فرانسوي میاشتني خپرونه ده، چې د نړۍ په ۲۹ ژبو او ۵۷ هیوادو کې خپریږي. دغه څیړنه له الماني ژبې څخه ژباړل شوي ده.
ښاغلی ګیورګس لوفور یو ډیپلوماټ او توکمپوه دی، دی د پاکستان لپاره داروپایي ټولنې پخواني استازي وو. د ده په څیړنه کې د افغان ولس د خونړي کړکیچ لامل او زموږ د بدمرغه ټولني دستونزو یو ژوړ سیاسي انځور وړاندې شوي دی. زما په اند هر هیواد پال افغان چې دې مسلي سره لیوالتیا لري باید د لیکوال څیړنه په ځیر سره ولولي، ځکه ده دغې مسلي ته دبلې زاویه څخه کتلي دي.

ژباړه : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

# د افغانستان او پاکستان ترمنځ ډیورنډ کرښه

## د جګړې لامل او د سولې کلی

لیکوال : ګیورګس لوفور

افغان هیوادپال : پښتانه ،افغان ولس او طالبان

د افغانستان په اړه دلندن او کابل نړیوالو کانفرانسونو لومړی په ۲۰۱۰ کال د جون میاشت په ۲۸ او دوهم په ۲۰۱۰ کال د جولای میاشت په ۲۱ نېټې پریکړو اوپایلو په جوته توګه ناسمي وختي او همداسي داورستي ټولټاکني چې د ټګي او برګي سره مل وي او لږ خلکو په کي بر خه واخیسته ، هیڅ یو ونشو کړي چې په افغانستان کې دا بې پایه وژنو ته د پای ټکي کیږدي .
د ۲۰۰۹ کال چې د جګړې اتم کال وو ۲۴۱۲ میره ملکي وګړې وژل شوي دي (۱) د کرښې په بله خوا د پاکستان په شمال لویدیځ کې د ملکیانو،سرتیرواو طالبانو د مړو تولـه شمیره اټکل ۱۲۰۰۰ میره تـه رسیږي . (۲) دغه دواړه هیوادونه ټول ۲۰۰ میلیونه وګړي لري . دا هیوادونه د سقوط له ګواښ سره مخامخ دي . د دوسله وال کړکیچ د حل لپاره یوه لار لټول اوس له هرمهاله ډیره اړینه بریښي .
پـه دا اوسنیوحالاتو کې ډیر خلـک دسولیزه حل لاره د طالبانو سره پـه روغـه جوړه او طالبـانو تـه د سولې پـه لاس اوږدولو کې ویني . پـه ریښتیا سره بلـه کومـه لاره یا بل کوم الترنتیف د سولیز حل لپاره نشته ؟ مخکې لـه دې چې دکړکیچ بنسټیز حل لار ې ته ورووځو موږ باید له عامو،اسانو او لنډمهالو شونتیاوو څخه خدای په اماني وکړو.

اصلي موضوع چې ډیره حساسه او پیچلي ده هغه دکابل او اسلام اباد ترمنځ د انګریزانو د کولونیال سیستم د ړنګیدو له مهاله تراوسه په مسلسل ډول د خبرواترو او له بحث څخه په ډیره ناجایزه توګه ډډه شوي ده.

له ۲۰۰۱ کال څخه تر اوسه په افغانستان کې دستراتیجیکو ترسره شویو تیروتنو په اړه هر څه ویل شوي دي . پـه یو بنسټیز سوهي تفاهم او ناسم پوهیدني باندې چې د افغانستان د کړکیچ په پیل کې شتون درلود هیڅ بحث او خبرې اترې ونشوي.

په ۱۹۸۶ کال کې د افغانستان په ختیځ کې خوست ولایت تـه نږدې اوسامه بن لادن یواځي څو کیلومتره د پاکستاني پولې څخه په واټن کې ځای پرځای شوي وو. هم مهاله د کرښې پـه بلـه غاړه کې د وزیر ستان پـه قبایلي سیمه « میران شاه » کې خوست میشتي مخور پښتون او جهادي مشر مولوي جلال الدین حقاني د افغانستان اسلامي ګوند« دمولوي محمد یونس خالص پـه مشري پـه شمالي وزیرستان کې » فعال پوځي مرکزونـه درلودل. مولوي حقاني لـه همدې ځای څخه د پخواني شوروي اتحاد ځلویښتم نمبر یرغلګرسور پوځ ته ماته ورکړه.

د میرانشاه او خوست لاره د ډیورنډ کرښه شلوي، نن د میرانشا او خوست محوري سیمه د بنسټپالو وهابي ترهګرو ډلو د عملیاتو سیمه ګرځیدلي ده . دلته هیڅ یو عنصر پـه تصادفي توګه نـه دی رامنځته شوي . بنسټپال وهابیانو اسلامي امت ته د یو واحد ملت په څیر ګوري او دخپل سپیڅلي جهاد موخي ددولتونو او ولسونو پـه ماتولو کې لټوي. له همدې لارې څخه دوی غواړي اسلامي دولت یا ستر خلافت ته لاره خلاصه کړي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د دوی نړیواله جهادي ستراتیجۍ په دې کې نغښتې چې د سیمیزو ناسیونالیستي غورځنګونو له احساساتو څخه ګټه واخلي ، تر څو له همدې لارې د دولتونه مرکزي ځواک کمزوي کړي او سرحدي پولې لمنځه یوسي.

وېشلي پښتون ولس

په ۱۹۸۰ کالونو کې ددغې نړیوالې جهادي ستراتیجۍ د پلې کولو لپاره اوسامه بن لادن ته د افغانستان او پاکستان ترمنځه د ډیورنډ کرښې کړکیچ له اسمان څخه یوه ډالۍ ثابته وه . د ډیورنډ کرښه د خوست – میرانشا محور ي لاره قطع کوي . داکرښه د انګریزانو د کولونیال ځواک یو مامور مارټم ډیورنډ په نامه ونومول شوه . هغه په ۱۸۹۳ کال کې دا د ډمارکتیشن کرښه د برتانوي هند او دافغانستان د پاڅونکوونکو غورځنګونو په وړاندې معامله کړه.
دا هغه کرښه ده چې د افغان دولتونو لخواهېڅ مهال په رسمیت پیرندلې شوي نه ده ځکه پښتانه یې په دوو برخو وېشلي دي. پاکستان دغه سیمه خپله برخه بولي. داحالت یواځې د پښتونو لپاره تر ټولو ډېر دردېدونکې او زړه خوږونکې حالت دی، ځکه د دوی کلي او سیمې یې سره وېشلې دي. دغه ویش د دې لامل شو چې د پښتنو دهویت ځواکمن ملي احساس او دیووالې احساسات دشوروي اتحاد پوځونو د ماتولو پروړاندې نور هم غښتلې شي. د پښتنو د هویت احساس له دوی سره له ناوړه توپیریز چلند څخه سر راپورته کوي. دا احساس یو ځل بیا د دوی په اړه د ژبني ناسم پوهیدني او ناوړه جغرافیا یې حالت څخه لاوړیږي. له پښتونو سره دا ستړی ستومانه احساس ډیر اوږ تاریخ لري. دغې حالت دوی ته اوس نوي ځواک وربښلي دی. د فارسي ژبې په نړۍ کې له لرغونو زمانوڅخه پښتانو ته افغانان ویل شوي دي. دا مهم نه ده چې دوی په کوم هیواد کې ژوند کوي. په پاکستان کې دوی کله ځان پښتانه او کله ځان افغانان درپیژني. که څه هم په افغانستان کې د دوولسو څخه تر پیځلسومیلیونو څخه ډیر پښتانه اوسیږي ، دوی د دغې هیواد دټولو وګړو د نیمايي څخه ډیره برخه جوړوي. په پاکستان کې پښتون توکم تر پنځویشت میلیونو پورې رسیږي چې د افغانستان په پرتله دوه برابره ډیر پښتانه دي. په پاکستان کې دوی د ټولو وګړو یواځې پنځلس سلنې جوړوي.

دا هغه لاملونه او شرایط دي چې بن لادن تیرینه ناوړه ګټه اخلې ، تر څو سیمه د عربي القاعدې د عملیاتو لپاره بنسټ وګرځوي . د بن لادن نړیوالې ستراتیجي او دالقاعدې پوځې مرکز لپاره ټول هغه اړین توکې او اسباب چې ده ور ته اړ تیا لرله تیار وو، تر څو دی دواړه دولتونه کمزوري او سیمه بې ثابته کړي . د ده جهاد لپاره هغه مهال له امریکا او سعودي عربستان څخه په لوی لاس مالي مرستې هم کیدې .د مرستو ډیره برخه د بن لادن مرستندوي مولوي جلال ا لدین حقاني ته ورکول کیدي . دالقاعدې ډلې دخپلو فعالیتونو لپاره په نړۍ کې هېڅ کومه بله داسي ډاډمنه سیمه لکه دغه سیمه نه شوه مندلې . په ۱۹۹۶ کال د اګوست په میاشت کې بن لادن هغه مهال دنړیوال جهاد جګړه اعلان کړه ،کله چې امریکایې یرغلګرو پوځونو د سعودي عربستان دوه سپیڅلي ښارونه مکه او مدینه اشغال کړي وو.

له ۱۹۹۴ کال څخه طالبانو په سیمه کې خورا مهم رول لوبولو،له یوې خواد طالبانو مشر ملا محمدعمر د جلال الدین حقاني تر قوماندې لاندې سرتیرې درلودل، له بلې خوابیا د طالبانو غورځنګ له بنسټه د القاعدې سره هېڅ تړو نه درلود. بن لادن اود القاعدې شبکې له دغې تازه موقع څخه ګټه واخیسته او د طالبانو د غورځنګ په لیکو کې چې د برې په لور روان وو، ورګډشول او ځان یې د طالبانو د سځت دریځه مذهبي قوانینو ساتندوي وښود. په ۱۹۹۲ کال کې کله چې کمونیستي رژیم ونړیدو او خونړې کورنۍ جګړې پیل شوې، طالبانو دافغان کورنې جګړو ته د پای ټکې کیښود، دوی دیو ستر ځواک په څیر راڅرګند شول. که څه هم دطالبانو برې د توکمیزه ډلې په نامه نه وو، بلکې د شریعت تر بیرغ لاندې ترسره شو. طالبانو د پښتنو ټولې سیمې ان تر آمو سیند پورې فتح کړې. د طالبانو نوي غورځنګ دسعودي عربستان او پاکستان د ګټو په چوپړ کې شو او په هماغه اندازه دوی د امریکا د ګټو په چوپړ کې هم شول. د کالیفرنیا د تیلو کمپنې اونوکال د هغه مهال غړي او اوسنې ولسمشر حامد کرزی له طالبانو سره دافغانستان له لارې دغازو پایپ لاین په اړه خبرې کولې. د دغې پایپ لاین د تیرولو لپاره اړینه دا وه په هیواد کې باید ملي ثباته او امنیت ټینګ شي. سعودي عربستان هم له یو سنني سخت دریځه امارت څخه د شیعه ایران په ختیځ کې له ایډیالوجک پلوه ملاتړ کاوه. د پاکستان لپاره هم دغه طرحه ډیره په زړه پورې وه .اسلام اباد دخپلو خلکو په منځ کې په سلو کې شل سلنې شیعیه ګانو باندې د ایران له اغیزې څخه په ویره کې وو. بالاخره له همدې مسلې سره د پاکستان د استراتیجې د ژوروالي مسله هم مطرح شوه. په پاکستان کې ټول خلک او دهغه مهال لومړۍ وزیره بې نظیر بوټو او حکومت په یو خاص فکرکې ډوب شول. غالباً دغه فکر یا ستراتیجې داسې مطرح شوه، که د پاکستان پر پوځ باندې د هندله لوري برید وشي نو پوځ به ټول افغانستان د خپل د شاتګ سیمې لپاره استعمال کړي. که څوک دسیمي توپوګرافیک حالت پیژني هغه ته دغه فکر پوچ او بې مانا بربښي.
په حقیقت کې ددغې فکر ترشا جیو سیاسي لیوالتیاووي شتون لري. کابل هېڅ مهال د ډیورنډ کرښه په رسمیت پیژندلي نه ده .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ۱۹۵۰ څخه تر ۱۹۷۰ کالونو پورې په افغانستان کې کيڼ لاسي پښتني ملي غورځنګ وده وکړه، ددوی سره دشوروي اتحاد لخوا مرسته کيده . په ۱۹۷۳،۱۹۷۸ کالونو کې دافغانستان ولسمشر محمد داود خان په پاکستان کې ټولې پښتني سيمې د افغانستان د خاورې نه بېلېدونکي برخه اعلان کړي او له پاکستان څخه يې د خپلې خاورې د مسترد کيدو غوښتنه وکړه.
هغه مهال پاکستان په ختيځ کې د کشمير په ابدي کړکېچ کې لاس او کريوان وو (۳) . په لويديځ کې د يو بل ګواښ څخه په ويره کې ولويده . له همدې امله اسلام اباد په دې فکر او هڅه کې دی چې په کابل کې يو پښتني اسلامي رژيم واک ته ورسوي او دغه رژيم د پاکستان دمرستو او ملاتړ ته تل اړ وي ، د رژيم د پاتي کيدو او لمنځه تللو تضمين د دوی په لاس کې وي . له همدې لارې ټول هغه غورځنګونه او ناسيوناليستي هڅې د يو لوی پښتونستان د رامنځ ته کيدو لپاره وځپلې او تر اوسه يې لمنځه وړي دي . (۴) په ۱۹۹۴ کال کې پاکستان تصور کاوه چې طالبان مسلمانان ، پښتانه او لږ څه هيواد پال يا ملي دودپال دي . دوی دخپلو موخو او رول لوبولو لپاره جوړ شوي خلک دي . په دې شرط چې دوی کنټرول شي او دپاکستان غوښتني ترسره کړي.
په پيل کې دغه د پام وړ ډله ټولو ته ډيره موثره او په ځای پريوته او ټول لوی سياسي لوبغيي د طالبانو په ګټه او د طالبانو منظم کولو په چوپړ کې پريوتو. په ۱۹۹۶ کال کې طالبانو د زور او زر له لارې واک ته ورسيدو.
شمالي ټلوالي د تاجکو مشر احمد شاه مسعود ( دی د ۲۰۰۱ کال دسپتامبر په مياشت کې ووژل شو ) لږ څه مقاومت وکړو. ديوولسم د سپتامبر د پيښې څخه راورسته بايد موږ دا ومنو چې يا به سرې ډير ساده وي او يا به د تاريخ ړوند وي. چې باور وکړي ، د تاجکو،هزاره او ازبکو ترمنځ يو اتحادبه دا ټول سياسي بهير تـه بدلون ورکړي. مسعود دشطرنج تختې پر مخ په لوبه کې يوه کليدي څيره وه، دی د دې جوګه نـه وو چې د ملت يوه ستن په پښو ودروي.
سړی نه شي کولی يوه کورنۍ روغي جوړي ته پس له هغې راوبولي چې د کورنۍ نيمايي غړي يې له غړيتوب څخه يومخي منع او له صحنې لرې کړي وي . نړيواله ټولنه هم په دې برخه کې يعني په دغه بې انصافه ويش او ملت جوړونـه کې بې ګناه نـه ده . نړيواله ټولنـه د طالبانو لـه ورسته پاتې ايډيالوجي څخه په شوک او ويره کې وو . په ۲۰۰۱ کال کې د بن پترسبورګ ټرون له مخې د افغان موقت دولت درويشت وزيران دشمالي ټلوالي څخه او يواځې له ووه پښتانه وزيرانو څخه جوړ شو . دحکومت مشر حامد کرزی يو پښتون وو، دې بيا په ټوليزډول د د امريکا يو ګوډاګي په څير ومنل شو.
دومره بس ده چې وپوهيږو، د پښتنو مدني ټولنه څومره ځان په واک کې محسوسوي او څومره واک په دغه سياسي جوړښت کې ورکړل شوي دی . دوی بې کچې ناراضي دي او لـه دغه حالت څخه ډير ځوريږي . په دې ورستيو اتوکلونو کـې د پښتني هويت دري اړخونـه په ډير ځواکمن ډول را ځرګند شول . لومړی دپښتون ولس د پښتونولي اصول په ډير قوت سره د دوی په هويت باندې ټينګ را ووړل شول ،يعني د دوی ټولنه هويتي رنګ لري ،په دوی کې هر څه نشنليستي نه دي . دويم طالبانيزم د دوی يو وسله وال اړخ بلل کيږي . دريم اړخ يې بهرني بيرني د مرستو ځواک القاعده دی ،القاعده لکه يو ويروس د پښتون په ناروغه وجود کې اغيزه کړي ده.
په ۲۰۰۱ کال د اوکتوبر او نوامبر په مياشت د طالبانو غورځنګ لکه څنګه چې ګومان کيدو دبورې يا شګرې په شان په چاي کې منحل شو .که پښتون ولس په کابل کې يو ريښتيني ځواک او د واک ونډه درلودلی او دوی خپله خبره دحق په کرسۍ کې کينولی شوې . ښايي د طالبانوغورځنګ لـه ماتي څخه ورسته بيا په پښو نـه وي دريدلی . دلته مطلب د دې نه دی چې « افغانستان يواځې د پښتونو هيواددی » بلکې دا همدسي ده لکه پښتانه چې په دې اړوند خپل وياړلي تاريخ او په افغانستان کې د خپل ولس وګړيزه برخه دليل وړاندې کوي.
که هر ډول وي سياسي توکمپوهنې په دې واقيعت ولاړل ده ، ښايي ځينې خلک لږ څه اړد کړي يا حيران کړي دغه موضوع بايد بې له کوم ولې يا څنګه څخه د توکمپوهنې په رڼا کې تاييد او درغلی په کې ونه شي.
په افغانستان کې له ملي پخولايني څخه هله خبرې کولی شو، چې پښتانه خپل شمالي توکمو نـه يواځې لـه تاريخي پلوه افغانان ونه وګڼي، بلکې دوی په خپل څنګ کې په مساوي ډول د ځان په شان هيواد پال افغانان وشميرل شـي . دا کار کيدوونکي او شوني دی، ځکه افغان تاجکان اصلاً نه غواړي چې د تاجکستان له دوشنبه څخه پرې حکومت وشي او همداسې هيڅ يوازبک نه غواړي چې له ازبکستان څخه او هيڅ کوم شيعيه هزاره نـه غواړي تهران تـه ګوري . هيڅ داسې افغان تاجک نه پيژنم چې دی له تاجکستان سره د يوځای کيدو خيال په سر کې ولري .په همدې ترتيب نشي کـولی يـو افـغـان اوزبـک ومـومي چـې دی لـه تاشـکند سـره د يـو ځـای کيـدو فکـر پـه سـر کـې لـري.
ټول افغانان په يو اواز يو ملي ستر سپيڅلي احساس او مسووليت دخپل نه ويشل شوي هيوادلپاره لري. افغان ولس له خپل ګډ هيواد څخه له دوو پيړيو راهيسې څنګ په څنګ په ګډه دفاع کړې ده او کوي . لـه بهره قومي لاس وهنې او درزونه د دوی ملي پيوستون نه شي زيانمنولی.
دغو پرله پسې تيروتنو څخه القاعدې ګټه پورته کړه. دغه ډله تر څوچې په ځمکه کې ريښې ونـه لري ، نشي کولای خپل ژوند ته ادامه ورکړي . افغانستان اسلامي سخت دريځو تـه د پټيدو د ژوندي پاتې کيدو او د شا تـګ لپاره مهم دی. په افغانستان کې دوی مجبور دي چې د طالبانو مقاومت تل تود وساتي . کـه ملي جهاد ناکامه شو بيا نو بې لـه شکه نړيوال جهاد ته يوه سخته ضربه ده.(۵ )


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولـئ

ښه به دا وي چې موږ اوس د طالبانو غوښتني بې له څه ځنډ، ځنډ او وقفه څخه ومنو او د خپل له لاسه ورکړل شوي خاوري د بیرته الحاق او له خپلو هم ژبې ولس سره دبیرته یو ځای کیدو لاره ورته خلاصه کړو . که دغه غوښتني په منځ کې نه وي ، بیانو په یقین سره ملي جهاد د نړیوال جهاد په ځیر سر را پورته کوي . (۵) په دې صورت کې به بن لادن هم په غلط لار نه وي تللي.

په ۱۹۹۶ کال کې بن لادن له دې امله په ویره کې وو چې د طالبانو او یونوکال کمپني ترمنځ خبرې اترې به د دې لامل شي چې د ملا عمر رژیم په رسمیت وپیژندل شي . دا ګواښ هغه مهال له منځه ولاړ کله چې په ۱۹۹۸ کال د اګست په میاشت کې د امریکا د کینیا او تانزاتیا سفارتونو کې بمي چاودني وشوي ، په بدل کې امریکا په لومړی ځل پر القاعده هوایي بریدونه وکړو او دافغانستان خاوره په لومړی ځل بمباري کړه . بن لادن ته بمباریو ښه موقه په لاس وکړه . بن لادن ډیرښه پوهیده چې دی ځنګه په مهارت سره د ملا عمر له قهر او غوسی څخه ګټه پورته کوي .

په ۱۹۹۸ کال د اګست میاشت کې په کندهار کې په یو ډول دوه ګوني یا دوه اړخیزه رهبري باندې جوړ راغله . د یوولسم د سپټمبر څخه را ورسته دغه تړون یا نوې پرمختګ لاتر اوسه لړزیدلي نه دی . القاعدې خپلي محوري سیمي خوست او میرانشا ته شاتګ وکړو چیر ته چې جلال الدین حقاني له خپلو جنګیالیو سره ملي او نړیوال جهاد ګرانټي کړي . بیا دملا عمر طالبانو د کندهار او کویټي سیمه په خپل کنټرول کې لري . دا کنټرول لړ څه اسانه ځکه دی چې د دې جنګیالي اکثره د غلجي له قبیلې سره تړولري . په شمالي بلوچیستان کې ۸۵ سلني اکثره وګړي له دغي قبیلې څخه دي . ایا د پاکستان هغه مهمه ستراتیجي د افغانستان په اړه له ګواښ سره مخامخ نه ده ؟ د اسلام اباد ستراتیجیستان په دې عقیده دي ،چې طالبانو به بیا په افغانستان کې لاس بري شي . دوی خپل پوځي عملیات یواځې د بهرنیو اورپکو په وړاندې پیل کړي دي ، تر څو ترهګریزه ځالي لمنځه یوسي .په داسي حال کې پاکستان خپل سیمیزه طالبان ځپي او د افغان طالبان بیا ساتي . القاعدې د » ځیټي او سندان « په نامه پوځي عملیاتو څخه هغه مهال ګټه واخیسته کله چې د ۲۰۰۴ کال په سر کې امریکایي جنرال دیوید بارنو له خوا طرحه شول . دا عملیات په دې موخه پیل شول چې داوزبکستان اسلامي غورځنګ جنګیالي د سویلي وزیرستان څخه شړل کیږي او د افغانستان په پوله کې یې ایثار کړي . دا د پاکستاني او امریکایي ځواکونو لومړني ګډ پوځي عملیات ووچې ترسره شول . پاکستاني پوځویان په یوه میاشت کې له زرو څخه ډیر ووژل شول . په پای کې دوی مجبور شول چې له نیک محمد یوځوان سمیزه پاخونکوونکې سره خبرې اترې ته کیني . دې بیا دوه میاشتي ورسته دامریکایې بې پیلوټه الوتکو له خوا ووژل شو.

نیک محمد مشهور په » د هېچا زوي « وتوانیدو چې اتیازره کسیزه پوځ مخی ته په ډیره میرانه ودریږي. دی ولسي اتل وپیژندل شو،دی د نوې ځوان نسل مخکښ وګرځیدو او دا نوې نسل اوس د ده د وینو بدل اخلي. د نیک ځای ناستي ویرونکې بیعت اله مسودله القاعدې سره د پاکستان په وړاندې لاس یو کړو. ده ډیر یرغلونه په پوځي کاروانو،پوځي مرکزونو باندې ترسره کړو. دمحاکمو په دفترونوباندې ترهګریزه بریدونه وکړو.ان د پوځ د قوماندې په مرکز کې برید تر سره کړو. ولسمشر پرویز مشرف درې ځله د بریدونو څخه ژوندې ووت .اما بې نظیر بوټو په ۲۰۰۷ کال د دسامبر په میاشت کې ووژل شوه.

په همدې بهیر کې مسود له شلو ډلو څخه چې دوی د هیواد په ټول شمال لویدیځ کې ستر واک او اغیزه درلوده د پاکستان د طالبانو تحریک بنسټ کیښود. سمدستي پاکستاني طالبانو مذهبي پاکوني پیل کړي، دساري په ډول په ۲۰۰۸ کال داوکتوبر په میاشت کې ۱۶۲ شیعیه ګان یې ووژل.

د طالبانو سره د روغي جوړي پرته یوه بله لارپه دغه سیموکې تنکي ځوانان چې د القاعدې په چوپړ کې نیول شوي دي. دوی په سیمه کې ګمارل کیږي چې وژنې ترسره کړي او ویره او وحشت یې خپل ورستیو کچې ته رسولي دی . دوی د سپارښتنو وژلو په بهیر کې له ۳۰۰۰ ډیرو قومي مخورو مشرانو څخه د جاسوسي په نامه سرنونه پرې کړي دي . مسود د پنجاب له ترهګري شبکې سره نږدې لړیکې درلودې او دوی د ده سره د مرستو او همکاریو ته ولاړل ول. لکه وهابي لشکري طیبه،نه وهابي ډلي او د شیعیه ګانو ضد ډلې لشکري جنګوي او جهیش محمد.

دغې حالت ملا عمر ډیر په اندیښنه کې کړو، ده نه غوښتل چې هلته مقاومت تقویه کړي او پاکستان بې ثباته کړي، ځکه ده غوښتل له هغه ځای څخه د خپل مقاومت لپاره خلک راجذب کړي.

د ۲۰۰۹ کال په اوړي کې پوځ وتوانیدو د هغو طالبانو څخه کار واخلي چې ددوی ملاتړ ورسره وو اود تحریک طالبان پاکستان په وړاندې وجنګوي . کوم خاص پوځي پریکنده او قانع کوونکې پایلې لاسته ورنه غلي. ملا عمر ډیرې هڅې وکړي چې د حقاني د شبکې له لارې د پاکستان تحریک طالبانو تر خپل کنټرول لاندې راولي. سره له دې چې بیت اله مسود ووژل شوي وو دپوځې برياوي څرک ونه لګیدو. دهغه د تره زوي حکیم اله مسود یې ځای ناستي شو . پوځ د اکتوبر په میاشت کې په وزیرستان کې نوې یرغل پیل کړ. تحریک طالبان پاکستان په غبرګون کې ډیر سخت بریدونه په ملکي وګړو ترسره کړل.

د ۲۰۰۹ کال له اوکتوبر څخه تر ۲۰۱۰ کال دسپټمبرمیاشتي ۸۱ ځانمرګې بریدونه چې ۱۶۸۰ انسانان په کې ووژل شول .په داسي یو حالت کې موږ کړي شو و پټیوچې د افغانستان په اړه د لندن او کابل کانفرانسونه دهماغه زړو نسخو بیا ګرمول دي او بس.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ایساف یا ناټوځواکونه ورو ورو تر سخت فشار لاندې راغلي دي. په جګړیزو سیمو کې هېڅ راز د بیا رغوني پروژې نه رغول کیږي . له سیاسي اړخه ټول چانسونه مو له لاسه ورکړو. هېڅ څوک نور باور نه کوي چې په څه ډول دیو ښه حکومتي مشرتابه سره په کابل او اسلام اباد کې مرسته او ساتنه یې وکړي.

موږ ته یواځې د کرزی وړاندیز پاتي کیږي ،هغه له طالبانو سره روغه جوړه او خبرې اترې دي. د امریکا ولسمشر اوبا ما زړه نا زړه دی، دې سره هېڅ کومه بله لاره یا الترنټیف نه شته . په پای کې دی مجبور دی چې موافقه وکړي. په سیمه کې حالات ډېر خړپړ شوي دي . تحریک طالبان پاکستان خپل برخلیک نه یواځې القاعدې او د پنجاب ترهګري ډلو ته په لاس کې ورکړي ،بلکې دوی په ټولو قبایلي سیمو کې خپلواک تینګ کړي دی او دودیزه قبایلي ځواک او سیستم یې هم لمنځه وړي دی . دوی خپل ترهګریزه بریدنو بې له دې چې ځان کمزوري وښیې دوام ورکوي او دسیمې پر ملکیانو یې ژوند توره شپه ګرځولي دی.

په داسي یو ګډوډ حالت کې به څنګه شوني وي، هغه طالبان وموندل شي چې دوی خبرواتروته تیاري ولري. که داسي وشي چې نړیوال سیاسي ستراتیجیستان په ریښتیا سره له طالبانو سره خبرو اترو ته کینې، څنګه به دا تضمین شي چې دوی به یو د اړیکو او دخپلویو لوبو او د نه منلو یو ګډوډ نظام یا سیستم سره مخامخ نه شي او دوی به د سم پوهاوي څخه عاجز وی.؟

طالبان به په هېڅ یو نړیوالو منل شوي معیارو نو،نورمونو او قوانینو ته غاړه کینږدي .

کیدایي شي چې د طالبانو سره خبرې اترې یوه سمه ستراتیجي نه وي . ښه به دا وي چې دا کړکیچ له ریښو څخه راویستل شي.

موږ له پیل څخه تر اوسه دوه ټکې وڅیړل او دا پوه تر لاسه او ثابته شوه، لومړی القاعده د خپل سر دبقا لپاره افغانستان ته ډیره اړتیا لري ، دوی بې له داسي سیمې څخه خپل ژوند ته ادامه نه شي ورکړلي . دویم ټکې دا دی چې یوه ارامه، سولیزه پښتني مدني ټولنه دخپلو ملي حقه حقوقو د لاسته راوړلو سره ه وسله وال طالبانو ته نوره اړتیا نه لري . دغه ثابته پوهه موږ مجبور وي ،له دې امله موږ مجبوریو دافغانستان پښتنومنځ ته ورشو او په دغه چارو کې لاس ورکړو.

یوه ګوتنیوکه به دا وي چې هغه زاړ پخواني د پښتنو د واکمني سیستم به په نه جبران کیدونکې ډول لمنځه تلل وي. ایا دا ریښتیا ده؟ که داسي وګڼو نو له دې څخه به کوم بل کمزوي یقین نه وي. داسي نه ده چې دا نوې رامنځته شوي ځواکونه او د دوی ترمنځه اړیکې د تل له لپاره نه ماتیدونکي دي . اوله لاسه وتلې واک او ځواک بیرته نه راګرځي. دا خبره سمه ده چې دودیزه قومي مشران وژل شوي دي . دا په دې مانا نه دي چې د پښتنو قبایلي دودونه او د واک سیستم وژل شوي دي.

زموږ له انده په فیوډالي سیستم کې قومي محور په ناسمه توګه د وراثت د دوام د پرنسیب له لارې تر سره کیږي. ځکه په اروپا کې فیوډالي واک اوځواک پادشاهانو خلکو ته ورکاوه .تر څو چې خپل فرمان ورکولو او حکمراني ته حق د الهي له لارې څخه برابر کړي . ټولواک به ځان خلکو ته د خدای د سپیڅلي میراث دانتقال په توګه ښوده .یعني دی په مسلسله ټوګه خدای ته دوفاداري دنده ترسره کوي، تر څو دی میراثي واک خپل ځای ناستي ته په امانت داري کې ور وسپاري.

په ختیز فیوډالي سیستم کې واک د الهي ځواک له لارې چا ته نه ورکول کیږي ، هر ناپیژندل شوي انسان کولی شي حکمران شي ،کله چې دی خلکو ته خپله ځواکمني ثابته کړي او نسبت هغو خلکو ته چې ده ته یې بیعت کړي ځان خان او سخاوتمند وښیې ، دی کړي شي حکمراني وکړي

له همدې امله هر اغیزمن ،مخور، ملي پښتون قومي مشر زموږ دخبرو اترو بالقوه مخاطب سړی دی. مهمه دانه چې دی طالب دی او یا دی د طالبانوخواخوږي وي او که نه وي . حتا سړی کولی شي ووایي چې جلال الدین حقاني په لومړۍ سرکې یو پښتون دی،بیا په دویم پړوکې دی یو طالب دی،په ورستي پړوکې دی د اسامه بن لادن یو ستراتیجک ملګري دی . ښایې ځینې خلک په دې خبره ټکان وخوري ،دی غواړي یواځې د خپل ځواک او شتمنیوڅخه ساتنه وکړي ،د هغه شتمني اوملکیت د خوست او میرانشا په منځ کې سیمه ده. دا د ډیورنډ په دواړو خواو کې د ده له خوا ازاده شوي سیمه ده .دی هره ورځ ډیورنډ کرښه تر پښو لاندې کوي. حقاني ته القاعده او تحریک طالبان پاکستان یواځې یو ټوکې د موخې د لاسته لاوړلو لپاره دي. دی اصلاً نړیوال جهاد ته لیوالتیا نه لري. په حقیقت کې نړیوال جهاد ده پسې ګونګوسي دي.

د دغې پسمنظر پربنسټ د پاکستان لوی درستیز اشفاق پرویز کیاني په خپله وینا کې د ۲۰۱۰ کال دفبوري په میاشت کې وړاندیز وکړ، دی وایې د خپلې اغیزې له لارې به له حقاني څخه ګټه واخلم. کیاني د خپلې ستراتیجې ژوري پر پرنسیب غواړي چې د پاکستان لویدځې پولې امنیت ټینګ کړي.

ده په واضع ډول وویل،چې موږ افغانستان ته د خپلې واکمني په سترګه نه ګورو ، یواځې دپاکستاني لویدیځې پولې امنیت ټینګو غواړو .بې له دې چې دی د ډیورنډ کرښې نوم واخلي هغې ته اشاره کوي. ورسره ده په افغانستان کې د هند په ځواکمنه اغېزه باندې سختې نیوکې وکړي . اسلام اباد ځان د غلیمانو په محاصره کې ویني او اندیښنه یې څرګنده کړه.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دښمني محاصري ګواښ او کلابندي احساسول ښايي لږ څه ناسمه ارزونه وي، اما بې بنسټه هم نه ده. ځکه د سړې جګړې پر مهال يو ډيپلوماتيک محور د واشنګټن ،اسلام اباد او پيکينګ ترمنځ وو. د امحور د ډيلي او ماسکو محور ترمنځ ولاړ وو. هغه مهال د پښتونو دملي هڅو څخه پخواني شوروي اتحاد او هند ملاتړ کاوه.
دلته موږ له هغه پېټ او پريکنده کړکيچ سره مخامخ کيږ و او په هغه نه ويل شويو حقيقتونو باندې خبرې کوو، چې د پاکستان او افغانستان اړيکې زهرجني کړي دي . پاکستان ډيورنډ کرښه ته د خپل جوړښت سره ديوي قانوني پولې په څير ګوري. او دنړيوالو قوانينو پر بنسټ د ميراثي تړونو ګرانتي لاره ورته خلاصوي.
افغانستان ډيورنډ کرښه په دې دليل نه مني، چې دغه کرښه هېڅ مهال په کوم تړون کې د نړيوالي پولې په څير لاسليک شوي نه ده. څنګه سړی داسي يو شي ته مشروعيت ورکولی شي چې قانوني مشروعيت يې لمنځه تللی دی؟.
ډيورنډ کرښه يو ناسور زخم دی. دغې کرښي هېچ مهال ونشو کړي چې پښتانه حاشيه ته کړي، دا کرښه يو ځل بيا هغه مهال ماته شوه کله چې د القاعدې په ويروسو باندې ککړه شوه.
کين اړخه نشنليست ګوندونه يو مهال له شوروي اتحاد سره نږدې اړيکې درلودې لکه عوامي ملي ګوند همدا اوس په پيښور کې حکومت د دوی په لاس کې دی. دوی د ډيورنډ له کرښې سره مخالف څرګندوي.
د ۲۰۰۷ کال د اپريل په مياشت کې په دې اړه يوه ستره سمبوليکه اشاره وشوه و چې د لړو خلکو پام يې ځان ته را واړولو. ولسمشر کرزی جلال اباد ته سفر وکړو چې هلته يو کولتوري مرکز پرانيسي. هغه ته يې د خان عبدالغفار خان نوم ورکړو. باچاخان د عوامي ملي ګوند بنسټ ايښودونکې وو. په ۱۹۴۸ کال کې دی افغانستان ته کدوال شو.
په ۱۹۸۸ کال کې دی ومړ او د افغانستان په خاوره کې خاورو ته وسپارل شو. اسفنديار ولی خان د ده لمسي او د عوامي ملي ګوند اوسني مشر د دې مراسمو وياړلي دروند ميلمه وو. د خپلو خبرو په پای کې ده په نيغه شعار ورکړو چې د کرښې په دې او هغه خوا کې زه افغان يم . ( لړو او بر يو افغان ) کرزی د دې خبري په اوريدو سره په شور او جوش کې په ټينګه ورته ټکې وکړي . د پاچا خان بل مرکز په پيښور کې دی.
د ډيورنډ کرښې سره ډير ې حساسي مسلې او کړکيچونه تړلي دي . سيمې ته به تر هغه سوله رانشي ، تر څو چې د دغې کرښي ريښتني حقوقي موقعيت څرګند نشي . د کرښې نوم موږ ته د اوربند مفهوم را يادوي ، ترهغې چې يو کړکيچ حل شوي نه وي . په همدې ډول دکنټرول کرښې کشمير په دوو برخي وېشلي دی . آيا څوک به د ايران او پاکستان ترمنځ کرښه چې دواړو هيوادو له خوا په رسميت پيژندلې شوي ده « د ګلدسميد کرښې (ل ) » په نوم ياده کړي؟
افغانستان له ډيره مودې څخه خپله موضع د ډيورنډ کرښې په اړه څرګنده کړي . ولسمشر کرزی طبيعتآ نه شي کولې د دغې کړکيچ په اړه ځان بې عزته کړي او خپل کورس يا ټګلارې ته بدلون ورکړي . که دی په دغه مسله کې په شا شي، د ده ژوند ته به جدي ګواښ پيښ شي.
د ټولو خبرو سره سره که کابل دغه کرښه په رسميت وپيژني، د پاکستان ستراتيجيکه ژوره به بې مانا شي. د ترهګري په وړاندې ټلواله به ښه په کار ولويږي. د پاکستان ويره چې دهند له خوا محاصره شوي خلاصه شي. په ۲۰۰۹ کال د اګست په مياشت کې پاکستان ګواښ وکړ چې د ډيورنډ کرښي څخه اغزن تار او ماينونه تاو کړي. يو مسخره فکر او ناشوني چار وو، مطمينآ سيميزه پاخون پيل کيده او پاخون کوونکې به د القاعدې سره يو ځای شوي وی.
د اروپايي ټولنې شيګن سيمه يوه د نموني موډل سيمې په څير د دې لپاره چې په دغه سيمه کې د نورو زلزلې څپو څخه ډډه وشي، دغه ماته کرښه بايد د سولې کرښې په نامه ونومول شي او له دې لارې څخه يو ه د سولې سيمه رامنځته شي. تر کومه چې مالوميږي د افغانستان او پاکستان اړيکې له ډيره مودې د دوی له هويتي کړکيچونواو سرحدي کړکيچونو له امله کړکيچني دي ،دوی نه شي کولې يو بل ته ورنږدې شي . اوس نړيوالې ټولنه مجبوره ده چې په دې برخه کې له دوی سره بنسټيزه مرستې وکړي.
نړيواله ټولنه ورسته له اتو کالو څخه لا په سيمه کې شتون لري دغه مرسته ددوی له لاسه تر سره کيداي شي.
يادونه بايد وشي چې د نوي کرښې پيژندل بې له سيميزه قومي مشرانو څخه د چې کرښې په دواړو خواو کې اوسيږي ناشوني ده. دلته بايد سړی د عملي حل هڅې پيل کړي. دا هڅې بايد داسي وي چې پښنون ولس ته له دې لارې پرته له بيلتون کرښې څخه د يوې سوليزه سيمې امنيت خوندي شي . يواځې افغان ولس لپاره بې له وېش کرښې څخه يوه ګډه سيمه رامنځ ته شي. تر څو دغه واحد ولس نوره د ويشلو، ټوټي کيدلو او ګډوديو له عذاب څخه په امان کې شي.
بې له دې چې د دواړو هيوادو حاکميت تر پښتنو لاندې راشي. د بيلګې په ډول لکه د اروپايي ټولنې « شينګن سيمه » چې بې له کومه خنډه دوی له يو بل سره تګ او راتګ وکړي.
په دغه صورت کې به يوه نيوکه دا وي چې د قاچاقو فعاليتونه به ډير شي .دا ناقانونه سوداګري خو له پخوا څخه دلته شتون لري، په يوه سوليزه سيمه کې به دقاچاقو کچه ټيټه شي . له دې امله به افغانستان چانس ومومي چې په سيمه کې د سوداګري ، د موټرو تګ او راتګ او اقتصادي لارې خلاصي کړي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د کرښې لپاره یوه نوي کړنلاره د تګ او راتګ دول باید تصویب شي، څکه د ډیورنډ کرښې په اړه پخوا هم تړونونه لیکل شوي وو لکه په ۱۸۹۳،۱۹۰۵،او په ۱۹۲۱ کالونو کې دا چې دومره ډیر تړونونه لیکل شوي دي یو لامل یې دا دی چې د کرښې په اړه یې شک او تر دیدونه رامنځته کړه چې دا کرښه په رښتیا شته او کنه.
اوس ډیر ې داسي نښې او علایم رامنځته شوي دي چې پښتانه په خپله پریکړه وکړي څان د القاعدې لـه شبکې څخه خلاص کړي . دوی به په خپله د القاعدې په وړاندې مقابلې ته را پاڅي.
داسي هم بریښي چې دواړه هیوادونـه پـه ځـای د دې چې د طالبـانو سره د سولې او روغي جوړي پـه اړه بـې پـایلو خبرې اترې ته کیني،دوی باید هڅه کړي بې له دې چې خپل پخواني دریځونو او اتحـادونو تـه د پښتنو پښتونو پـه اړه وګوري دوی باید له قومي مشرانو سره خبرو اترو ته کیني.
خالد عزیز د پښتونخوا پخواني جنرال سکرتر پـه ۲۰۰۸ کال کې د دې کړکیچ پـه اړه وایې، د امریکا او پاکستان ترمنځ به د ګټو او لیوالتیا کړکیچ همداسي پرځـای وي، تر څو چې د ډیورنډ مسله پـه افغانستان باندې حل شوي نـه وي.( ۶ )
په هغه څه باندې چې کابل او اسلام اباد پوهیږي ،د پاکستان لوی درستیز پـه ډګر وویل ، پـه دغه پاسني عبارت کې جوتیږي . په افغانستان کې د ملي پخلاینې لړۍ په لومړۍ سر کې د دې لپاره ده چې د پاکستان په پلولو کې دا بل اور مړ کړي.
کیداي شي د پښتونو له توکمیزه هویتي احساس څخه القاعدې ناوړه ګټه اخیستي وي . له بله پلوه د پښتنوپه کیڼ لاسي ګوندونوکې د طالبانو مخالفت شته دی.
لودیدیځـه ډیپلومـاتې باید پـه داسـي یوه مغلقه پیچیده کړکیچین حـالاتوکې نـوي لارې چارې ولټوي او لـه خپلو مـالومو میتودونو څخه وړاندې ولاړ شي.
دا حاشیه ته لږدول شوي او له پامه غورځول شوي پښتانه حق دی چې بیا خبري ته پریښودل شي ،یو لوی بري بـه دا نه وي، بلکې د دوی منل شوي حقوقو نو ته به درناوي او د دوی عزت بیرته پرځـای کول دي.
له دې سره به د نړۍ تر ټولو ځواکمن پوځونو ته به یو چانس پیداشي ، چې له بشپړي ماتي څخه خلاص او د لږ څه باعزته وتلو لار به ورته هواره شي.
پای
لمنلیک : د نوونسمي پیړۍ په پای کې د ایران او پاکستان پوله د بلوچیستان په سیمه کې یوه کمیسیون ته دنده وسپارل شوه چې دا پوله رسماً ویستل شي ،د کمیسیون مشر انګریزي جنرال ګلدسمید وو.
اخیځونه:
۱. د افغانســـتان لپـــاره د ملګروملتـــو د مرســـتو ځانګـــه د ۲۰۱۰ کـــال د جنـــوري میاشـــتي کـــالني راپـــوټ Unama.unmissions.org
www. Satp.org . د سویلي اسیا پورتال ۲ . د هند او پاکستان کړکیچ د ۱۹۴۷ کال څخه پیل او نن کشمیر پـه دوو برخو ویشلي دی .۳
۴. ستر پښتونستان د لوی افغانستان د لویدو لپاره استعمالیږي ، پـه ۱۹۴۸ کال کې د شمالي وزیرستان او د تیرا پـه دره کې د خپلواک پښتونستان دولت بیرغ په رپیدو شوو،چې د افغانستان پاچا اعلحضرت محمد ظاهر شاه لـه خوا یـې ملاتړ کیدو. دغه په خپل سر اعلان شوي دولت یواځې شل میاشتي شتون درلود.


وګورئ . ۵Jean _Pierr Filiu ; Les Neuf Vies d al _qaida ; Paris (favard ) 2009

۶November 2008. .Aligning regional security policies", "The News, Islamabad, 25"

Zeilen, Georges Lefeuvre Le Monde diplomatique Nr. 9312 vom 8.10.2010, 724




افغان جرمن آنلاین په دربښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ